دافغانستان اسلامي جمهوريت

دعدليې وزارت


# رسمي جريده

- دافغانستان اسلامي جمهوري رياست فرمان
- دښاري خدمتونو د محصول د قانون (۴) ګڼه ضميمه
- د خصوصي روغتيايي مركزونو د مقررې د ځينو موادو تعديل او ايزاد
- د هوايي ډګرونو او ملكي هوايي چلند د تأسيساتو د حق الاجرت د مقررې د يوولسمې مادې د (۱) فقرې تعديل

- فرمان رئيس جمهوری اسلامی افغانستان
- ضميمهٔ شماره (۴) قانون محصول خدمات شهری
- تعديل و ايزاد برخی مواد مقررهٔ مراكز صحی خصوصی
- تعديل فقرهٔ (۱) ماده يازدهم مقررهٔ حق الاجرت ميدان های هوائی وتأسيسات هوانوردی ملكی

---


دخپريدو نېټه: د۱۳۹۳ هـ.ش كال د غبرګولي دمياشتې(۱۴)

پرله پسې نمبر: (۱۱۳٦)

تاريخ نشر: (۱۴) جوزا سال ۱۳۹۳ هـ . ش

نمبر مسلسل: (۱۱۳٦)

## در این شماره


۱- فرمان رئیس جمهوری اسلامی افغانستان مبنی بر تعیین محترم محمدیونس قانونی به حیث معاون اول ریاست جمهوری اسلامی افغانستان **صفحه** (۱).

۲- ضمیمه شماره (۴) قانون محصول خدمات شهری منتشره جریده رسمی شماره (۷۹۴) سال ۱۴۲۱ هـ .ش **صفحه** (۲ _ ۱۱).

۳- تعدیل وایزاد برخی مواد مقرره مراکز صحی خصوصی منتشره جریده رسمی شماره (۱۰۸۴) مورخ ۱۳۹۱/۵/۲۱ صفحه (۱۲-۱۹) .

۴- تعدیل فقره (۱) ماده یازدهم مقرره حق الاجرت میدان های هوائی و تأسیسات هوانوردی ملکی صفحه (۲۰-۲۱).



**د امتیـــاز خاوند: د عدلیـــې وزارت**

**مسئول چلوونکی: قانونمل محمدرحیم "دقیق"**

**۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷**

**د دفتر تیلفون: ۰۷۵۲۰۵۲۷۰۹**

**مرستیـــال: نورعلم ۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸**

**مهتمـــم: محمد جان ۰۷۸۳۳۰۶۹۸۲**

**وب سایت: www.moj.gov.af**

قیمت این شماره: (۳۰) افغانی

تیراژ چاپ: (۳۰۰۰) جلد

مطبعه : بهیـــــر

آدرس: وزارت عدلیه، ریاست نشرات و ارتباط عامه، چهارراهی پشتونستان، کابل

## دافغانستان اسلامي جمهوري رياست د لومړي مرستيال په توګه د محترم محمد يونس قانوني د ټاکلو په اړه د ملي شوري دمصوبې دتوشېح په هکله دافغانستان اسلامي جمهوري رياست فرمان

ګڼه: (٦)

نېټه: ۵/ ۱/ ۱۳۹۳

**لومړۍ ماده:**

د افغانستان د اساسي قانون دڅلورشپېتمې مادې د (۱٦) فقرې او اته شپېتمې مادې د لومړي بند دحکم له مخې، دافغانستان اسلامي جمهوري رياست دلومړي مرستيال په توګه دمحترم محمد يونس قانوني دټاکلو په هکله دولسي جرګې د ملي شوري د ۵/ ۱/ ۱۳۹۳نېټې (۴) ګڼه مصوبه توشېح کوم.

**دوه يمه ماده:**

دغه فرمان د توشېح له نېټې څخه نافذ دی او په رسمي جريده کې دې خپور شي.

حامد کرزی

دافغانستان داسلامي جمهوريت رئيس

## فرمان رئيس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد توشيح مصوبۀ شورای ملی مبنی بر تعيين محترم محمد يونس قانونی به حيث معاون اول رياست جمهوری اسلامی افغانستان

شماره: (٦)

تاريخ: ۱۳۹۳/۱/۵

**مادۀ اول:**

به تأسی از حکم فقرۀ (۱٦) مادۀ شصت وچهارم و بند اول مادۀ شصت وهشتم قانون اساسی افغانستان مصوبۀ شماره (۴) مؤرخ ۱۳۹۳/۱/۵ ولسی جرگه شورای ملی را در مورد تعيين محترم محمد يونس قانونی به حيث معاون اول رياست جمهوری اسلامی افغانستان توشيح می دارم.

**مادۀ دوم:**

اين فرمان از تاريخ توشيح نافذ و در جريدۀ رسمی نشر گردد.

حامد کرزی

رئيس جمهوری اسلامی افغانستان

## دښاري خدمتونو د محصول د قانون د (۴) ګڼې ضميمې د توشېح په هکله، د افغانستان د اسلامي جمهوريت د رئيس فرمان

ګڼه : (۱۴)

نېټه : ۱۳۹۳/۲/۳

**لومړۍ ماده:**

د افغانستان د اساسي قانون د (٦۴) مادې د (١٦) فقرې د حکم له مخې، د ښاري خدمتونو د محصول د قانون څلورمه ګڼه ضميمه چې د ملي شورې د مجلسينو د ګډ هيئت د ۳/ ۱۰/ ۱۳۹۲ نېټې (۱۱۳) ګڼې پرېکړې پر بنسټ،په (۱۴) مادو کې تصويب شوې ده، توشېح کوم.

**دوه يمه ماده:**

دغه فرمان له ضميمې او د ملي شورې د مجلسينو د ګډ هيئت له پرېکړې سره يوځای په رسمي جريده کې له خپرېدو وروسته، نافذېږي.

**حامد کرزی**

**دافغانستان داسلامي جمهوريت رئيس**

## فرمان رئيس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد توشيح ضميمۀ شماره (۴) قانون محصول خدمات شهری

شماره : (۱۴)

تاريخ : ۱۳۹۳/۲/۳

**مادۀ اول:**

به تأسی از حکم فقرۀ (١٦) مادۀ (٦۴) قانون اساسی افغانستان، ضميمۀ شماره چهارم قانون محصول خدمات شهری را که بر اساس فيصلۀ شماره (۱۱۳)مؤرخ ۱۳۹۲/۱۰/۳ هيئت مختلط مجلسين شورای ملی به داخل (۱۴) ماده به تصويب رسيده است، توشيح می دارم.

**مادۀ دوم :**

اين فرمان همراه با ضميمه و فيصلۀ هيئت مختلط مجلسين شورای ملی بعد از نشر، در جريدۀ رسمی نافذ می گردد.

**حامد کرزی**

**رئيس جمهور اسلامی افغانستان**

دافغانستان اسلامي جمهوري دولت

ملي شوري

د ښاري خدمتونو د محصول دقانون

څلورمه ګڼه ضميمه

ګڼه : (۱۱۳)

نېټه : ۱۳۹۲/۱۰/۳

د افغانستان د اساسي قانون په سلمه ماده کې له درج شوي حکم سره سم، دملي شوري د هرې جرګې له دريــو، دريــو غړوڅخه جوړ شوي ګډ هيئت د ښاري خدمتونو د محصول د قانون څلورمه ګڼه ضميمه له يو شمېرتعديلونو او ايزاد سره په (۱۴) مادوکې د ۳/ ۱۰/ ۱۳۹۲ نېټې په غونډه کې فيصله کړ.

د ګډ هيئت رئيس

انجنير احمدجاويد "رؤف"

د ګډ هيئت مرستيال

محمد فرهاد "صديقي"

دولت جمهوری اسلامی افغانستان

شورای ملی

ضمیمهٔ شماره چهارم قانون

محصول خدمات شهری

شماره: (۱۱۳)

تاریخ:۱۳۹۲/۱۰/۳

به تأسی ازحکم مندرج مادهٔ صدم قانون اساسی افغانستان،هیئت مختلط مجلسین شورای ملی به ترکیب سه، سه نفر ازاعضای هر جرگه ضمیمهٔ شماره چهارم قانون محصول خدمات شهری را با یک سلسله تعدیلات و ایزاد به داخل (۱۴) ماده درجلـــــسهٔ مؤرخ ۱۳۹۲/۱۰/۳ فیصله نمود.

رئیس هیئت مختلط

انجنیر احمدجاوید "رؤف"

معاون هیئت مختلط

محمد فرهاد "صدیقی"

## د ۱۴۲۱هـ.ق كال په (۷۹۴) گڼه رسمي جريده کې خپور شوی د ښاري خدمتونو د محصول د قانون (۴) گڼه ضميمه

**لومړۍ ماده:**

ښاروالۍ مکلفې دي، د هغو اعلانونو او تبليغاتو د نصبولو له پاره چې د لوحو، دکوچنيو،منځنيو اولويو تختو د اعلانونو، تبليغاتي تلوېزيونونو، هوايي بالونونواو د ډيجيتلي لوحوله لارې صورت مومي او له دې وروسته په دې ضميمه کې د "اشتهاري وسايلو" په نامه يادېږي، له اړوندو ادارو سره په تفاهم کې د جلا کړنلارې مطابق مناسب ځايونه وټاکي او تثبيت ئې کړي.

**دوه يمه ماده:**

د تبليغاتو او اعلانونو هغه شرکت چې اړوند اشتهاري وسايل د ښاروالیو، عامه يا دشخصي ملکيتونو پر سر باندې نصبوي، مکلف دی د دې ضميمې دحکمونومطابق اړوندو ښاروالیو ته محصول

## ضميمهٔ شماره (۴) قانون محصول خدمات شهری منتشرهٔ جريدهٔ رسمی شماره (۷۹۴) سال ۱۴۲۱ هـ .ق

**مادهٔ اول:**

شاروالی ها مکلف اند، جهت نصب اعلانات و تبليغاتی که ازطريق لوحه ها، تخته های اعلانات کوچک، متوسط و بزرگ، تلويزيون های تبليغاتی، بالون های هوائی و لوحه های ديجيتلی صورت می گيرد ومنبعد در اين ضميمه بنام "وسايل اشتهاری" ياد می شود، محلات مناسب را در تفاهم با ادارات ذيربط طبق طرزالعمل جداگانه تعيين و تثبيت نمايند.

**مادهٔ دوم:**

شرکت تبليغات واعلانات که وسايل اشتهاری مربوط را بالای ملکيت های شاروالی، عامه يا شخصی نصب می نمايد، مکلف است، طبق احکام اين ضميمه به شاروالی های مربوط محصول

ورکړي.

**درېيمه ماده:**

اعلانونه او تبليغات بايد د آدابو، اخلاقو، اسلامي احکامو او عامه نظم مخالف نه وي.

**څلورمه ماده:**

(۱) د تبليغاتو او اعلانونو شرکت نشي کولای د اړوندې ښاروالۍ له اجازې پرته، اشتهاري وسايل نصب کړي که څه هم چې په شخصي ځايونوکې وي.

(۲) په شخصي ځايونو کې د اشتهاري وسايلو نصبول ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي حکم له په پام کې نيولو سره، داړخونو د موافقې پربنسټ صورت مومي.

**پنځمه ماده:**

(۱) د ښاري خدمتونو د محصول د قانون په (۱) ګڼه ضميمه کې د درج شوو اصنافو د لوحو ډول، اندازه او رنګ ددې ضميمې په (لومړۍ، دوه يمه او درېيمه) مادو کې د درج شوو حکمونو له په پام کې نيولو سره، د اړوندو ښاروالیو له خوا

تأديه نمايد.

**مادۀ سوم :**

اعلانات و تبليغات نبايد مخالف آداب، اخلاق و احکام اسلامی و نظم عامه باشد.

**مادۀ چهارم:**

(۱) شرکت تبليغات و اعلانات نمی تواند، بدون اجازۀ شاروالی مربوط، وسايل اشتهاری را نصب نمايد ولو در محلات شخصی باشد.

(۲) نصب وسايل اشتهاری در محلات شخصی با رعايت حکم مندرج فقرۀ (۱) اين ماده بر اساس توافق طرفين صورت می گيرد.

**مادۀ پنجم:**

(۱) نوع، اندازه و رنگ لوحه های اصناف مندرج ضميمۀ شماره (۱) قانون محصول خدمات شهری با رعايت احکام مندرج مواد (اول، دوم و سوم) اين ضميمه از طرف شاروالی

ټاکل کېږي او د مالک په لګښت سره برابر او نصبېږي.

(۲) دښاروالی له تثبیت شوو ځایونو پرته، په دیوالونو، پایو، ونو اوهغو ته ورته ځایونو کې دهر ډول اعلانونو او تبلیغاتو نصبول، ځوړندول، سرېښنول، حک کول او لیکل، منع دي.

شپږمه ماده:

(۱) د تبلیغاتو او اعلانونو شرکت مکلف دی، د ښاري خدمتونو د محصول دقانون د (۱) ګڼې ضمیمې مطابق، له اړونـدو ښاروالیو څخه صنفي جواز ترلاسه کړي.

(۲) نور حقیقي او حکمـي اشـخاص کولای شي،اړوند اشـتهاري وسـایل د اړوندې ښاروالی د اجازې له ترلاسه کولو او په دې ضمیمه کـې د درج شـوي محصول او د هغې ټاکل شوې مـودې د کرایې له ورکړې وروسته چې لـه درې میاشتوڅخه زیات نه وي، په تثبیت شوو ځایونوکې، نصب کړي.

(۳) ددې مادې په (۲) فقره کـې درج شوي اشخاص دجواز اخیستلو ته اړتیا نه

های مربـوط تعیـین و بـه مصـرف مالک تهیه ونصب می گردد.

(۲) نصب، تعلیق، چسپانیدن، حک و تحریر هرنوع اعلانات و تبلیغات در غیراز محلات تثبیت شدهٔ شاروالی، روی دیوار ها، پایه ها، درختان و امثال آن، ممنوع می باشد.

مادهٔ ششم :

(۱)شرکت تبلیغات واعلانات مکلـف است، طبق ضمیمهٔ شماره (۱) قـانون محصول خدمات شهری از شاروالی های مربوط جواز صنفی اخذ نماید.

(۲) سـایر اشـخاص حقیقـی و حکمـی مـی تواننـد، وسـایل اشـتهاری مربـوط را بعـد از کسـب اجـازهٔ شـاروالی مربـوط و پرداخت محصول مندرج این ضمیمه وکرایـهٔ مـدت معینـه کـه از سه ماه بیشتر نباشد، در محلات تثبیت شده، نصب نمایند.

(۳) اشـخاص منـدرج فقـرهٔ(۲) این ماده ضـرورت بـه اخـذ جـواز

لري.

اوومه ماده:

د تبليغاتو او اعلانونو شرکت مکلف دی، د اړوندو اشتهاري وسايلو د نصبولو په منظورپه لومړيو درجه ولايتونو کې (۵۰۰۰۰۰) پنځه سوه زره افغانۍ ، په دوه يمه درجه ولايتونو کې (۴۰۰۰۰۰) څلورسوه زره افغانۍ او په دريمه درجه ولايتونو کې (۳۰۰۰۰۰) درې سوه زره افغانۍ د تضمين په توګه د اړوندې ښاروالۍ په موافقې سره په يوه دولتي بانک کې ، تحويل کړي.

اتمه ماده:

(۱) د تبليغاتو او اعلانونو داخلي شرکت مکلف دی احوالو سره سم، داړوندو اشتهاري وسايلو له نصبولوڅخه د موقعيت له نظره هرکال په لاندې توګه اړوندې ښاروالۍ ته محصول ورکړي:

۱- د لوحو او اعلانونو دتختو له يوه متر مربع څخه په لومړۍ درجه ځايونو کې (۵۰۰۰) پنځه زره افغانۍ ، په دوه يمه درجه ځايونوکې (۴۰۰۰) څلور زره

ندارند.

مادۀ هفتم:

شرکت تبليغات و اعلانات مکلف است به منظورنصب وسايل اشتهاری مربوطه در ولايات درجه اول، مبلغ (۵۰۰۰۰۰) پنج صد هزار افغانی در ولايات درجه دوم، مبلغ (۴۰۰۰۰۰) چهارصد هزار افغانی و در ولايات درجه سوم، مبلغ (۳۰۰۰۰۰) سه صد هزار افغانی را طور تضمين در يکی از بانک های دولتی به موافقۀ شاروالی مربوط تحويل نمايد.

مادۀ هشتم :

(۱) شرکت داخلی تبليغات و اعلانات مکلف است از نصب وسايل اشتهاری مربوط نظر به موقعيت، حسب احوال سالانه طور ذيل به شاروالی مربوط، محصول تأديه نمايد:

۱- از فی مترمربع لوحه ها، تخته های اعلانات در مکان درجه اول، مبلغ (۵۰۰۰) پنج هزار، در مکان درجه دوم، مبلغ (۴۰۰۰) چهارهزار افغانی و

افغانۍ او دريیمه درجه ځایونوکې (۳۰۰۰) درې زره افغانۍ.

۲- د تبلیغاتي تلویزیونونو له یوه متر مربع څخه له (۱۰۰۰۰) لسو زرو څخه تر (۱۵۰۰۰) پنځلس زره افغانۍ.

۳- ددېجیتلي لوحو له یوې متر مربع څخه په لومړۍ درجه ځایونو کې (۷۰۰۰) اووه زره افغانۍ، په دوه یمه درجه ځایونوکې (٦۰۰۰) شپږ زره افغانۍ او په دریيمه درجه ځایونوکې (۵۰۰۰) پنځه زره افغانۍ.

۴- د هوايي بالون پرمخ اعلان له یوه متر مربع څخه له (۳۰۰۰) درې زرو څخه تر (۵۰۰۰) پنځه زرو افغانیو پورې.

۵- لومړۍ، دوه یمه او دریيمه درجه ځایونه د اړوندو ښاروالیو له خوا په جلا مقرره کې تنظیمېږي.

(۲) د تبلیغاتو او اعلانونو بهرنی شرکت مکلف دی د اشتهاري وسایلو له نصبولوڅخه، ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي محصول دوه برابره، اړوندې ښاروالۍ ته ورکړي.

(۳) د ښاري خدمتونو د محصول د قانون

درمکان های درجه سوم، مبلغ (۳۰۰۰) سه هزار افغانی.

۲- از فی متر مربع تلویزیون های تبلیغاتی، مبلغ (۱۰۰۰۰) ده هزار الی (۱۵۰۰۰) پانزده هزار افغانی.

۳-ازفی مترمربع لوحه های دیجیتلی در مکان های درجه اول، مبلغ (۷۰۰۰) هفت هزار افغانی، در مکان های درجه دوم، مبلغ (٦۰۰۰) شش هزار افغانی و در مکان های درجه سوم، مبلغ (۵۰۰۰) پنج هزار افغانی.

۴- ازفی متر مربع اعلان روی بالون هوائی، مبلغ (۳۰۰۰) سه هزار الی (۵۰۰۰) پنج هزار افغانی.

۵- مکان های درجه اول، دوم و سوم توسط شاروالی های مربوط در مقررهٔ جداگانه تثبیت می گردد.

(۲) شرکت خارجی تبلیغات و اعلانات مکلف است ازنصب وسایل اشتهاری، دو برابر محصول مندرج فقرهٔ (۱) این ماده را به شاروالی مربوط، تأدیه نماید.

(۳) اشخاص شامل اصناف مندرج

د (۱) ګڼې ضميمې په درج شوو اصنافو کې شامل اشخاص مکلف دي، د هغو لوحو له نصبولو څخه چې اندازه يې له درې متر مربع څخه لږه وي، د يوه متر مربع په وړاندې (۵۰۰) افغانۍ او د هر يو اضافي متر مربع په وړاندې زر افغانۍ، هر کال د محصول په توګه اړوندې ښاروالۍ ته ورکړي.

(۴) حکمي اشخاص مکلف دي، د هغو سوداګريزو اعلانونو محصول چې د هټيو اصنافو، کورسونو، خصوصي ښوونيزو او تحصيلي مؤسسو او د هغو په ورته لوحو کې نصبوي يا اړوند اعلانونه او تبليغات په نقليه وسايطو يا ودانيو کې سرېښوي، ددې مادې د (۱) فقرې په (۱ او ۳) اجزاوو کې د (۴۰) سلنې په اندازه، هر کال د محصول په توګه اړوندې ښاروالۍ ته ورکړي.

نهمه ماده:

(۱) د هغو دولتي ادارو لوحې چې د هغوی په اړوندو ملکيتونو باندې نصبېږي، د محصول د ورکړې تابع

ضميمهٔ شماره (۱) قانون محصول خدمات شهری مکلف اند، از نصب لوحه های که اندازهٔ آن از سه مترمربع کمتر باشد، دربرابر فی مترمربع مبلغ (۵۰۰) افغانی و در برابرهرفی مترمربع اضافی مبلغ يک هزارافغانی راسالانه به حيث محصول به شاروالی مربوط تأديه نمايند.

(۴) اشخاص حکمی مکلف اند، محصول علامت تجارتی را که درلوحه های دکاکين، اصناف، کورس ها، مؤسسات تعليمی و تحصيلی خصوصی و امثال آن نصب يا اعلانات و تبليغات مربوط را در وسايط نقليه يا ساختمان ها می چسپانند، به اندازهٔ (۴۰) فيصدمبالغ مندرج اجزای (۱ و۳) فقرهٔ (۱) اين ماده را سالانه به حيث محصول به شاروالی مربوط تأديه نمايند.

مادهٔ نهم:

(۱) لوحه های ادارات دولتی که بالای ملکيت های مربوط آنها نصب می گردد، تابع پرداخت محصول

نه دي.

(۲) هغه اعلانونه او تبليغات چې د دولتي ادارو په شمول د حقيقي او حکمي اشخاصو له خوا په ځانګړو ملي، مذهبي او نړيوالو مناسبتونو کې نصبيږي، د محصول د ورکړې تابع نه دي.

(۳) ددې مادې په (۲) فقره کې درج شوي اشخاص مکلف دي، د مراسمو له پای ته رسېدو وروسته تر پنځوورځو پورې، اړوند نصب شوي اعلانونه او تبليغات راټول کړي.

لسمه ماده:

(۱) دټاکنيزو عهدو نوماندان کولای شي، اړوند اعلانونه او تبليغات د تبليغاتو او اعلانونو د شرکتونو له لارې خپاره يا په هغو ځايونوکې چې د ښاروالۍ له خوا ټاکل کيږي او تثبيتيږي، نصب کړي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي نوماندان مکلف دي، د دې ضميمې داتمې مادې د(۱) فقرې مطابق د اعلانونو او تبليغاتو د نصبولو لپاره ۲۰٪ محصول

نمی باشد.

(۲) اعلانات و تبليغاتی که ازطرف اشخاص حقيقی وحکمی به شمول ادارات دولتی به مناسبت های خاص ملی، مذهبی و بين المللی نصب می گردد، تابع پرداخت محصول نمی باشند.

(۳) اشخاص مندرج فقرۀ (۲) اين ماده مکلف اند، بعد ازختم مراسم الی پنج روز، اعلانات و تبليغات نصب شدۀ مربوط را جمع آوری نمايند.

مادۀ دهم:

(۱) کانديدان عهده های انتخابی می توانند، اعلانات وتبليغات مربوط را ازطريق شرکت های تبليغات و اعلانات نشر يا درمحلاتی که از طرف شاروالی تعيين وتثبيت می گردد، نصب نمايند.

(۲) کانديدان مندرج فقرۀ (۱) اين ماده مکلف اند، طبق فقرۀ (۱) مادۀ هشتم اين ضميمه برای نصب اعلانات و تبليغات ۲۰٪ محصول و برای جمع

او د اعلانونو اوتبليغاتو راټولولو لپاره ۱۰٪ محصول ښاروالیو ته ورکړي.

**يوولسمه ماده:**

د اعلانونو او تبليغاتو شرکتونه او ددې ضميمې د څلورمې مادې په (۲) فقره کې درج شوي نور حقيقي او حکمي اشخاص مکلف دي، اړوند اشتهاري وسايل داسې نصب کړي چې اشخاصو ته مالي او ځاني زيان ونه رسېږي، پرته لدې، د قانون دحکمونو مطابق د اړول شوي زيان په جبرانولو مکلف دي.

**دوولسمه ماده:**

د اعلانونو او تبليغاتو شرکتونه او ددې ضميمې د څلورمې مادې په (۲) فقره کې درج شوي نور حقيقي او حکمي اشخاص له لاندې مواردوڅخه د سرغړونې په صورت کې، د محصول له ورکړې برسېره، له احوالو سره سم د اړوندې ښاروالۍ له خوا هم جريمه کېږي:

۱- له ټاکل شوې اندازې څخه د لويو اشتهاري وسايلو د نصبولو په صورت کې، د نوموړو اشتهاري وسايلو د اندازې

آوری اعلانات و تبليغات ۱۰٪ محصول برای شاروالی ها بپردازند.

**مادۀ يازدهم:**

شرکت های تبليغات و اعلانات و ساير اشخاص حقيقی وحکمی مندرج فقرۀ (۲) مادۀ چهارم اين ضميمه مکلف اند، وسايل اشتهاری مربوط را طوری نصب نمايند که ضرر مالی يا جانی به اشخاص وارد نگردد، درغير آن، طبق احکام قانون مکلف به جبران خسارۀ وارده می باشند.

**مادۀ دوازدهم:**

شرکت های تبليغات واعلانات و ساير اشخاص حقيقی و حکمی مندرج فقرۀ(۲) مادۀ چهارم اين ضميمه در صورت تخلف از موارد ذيل، علاوه بر تأديۀ محصول حسب احوال از طرف شاروالی مربوط جريمه نيز می گردند:

۱- در صورت نصب وسايل اشتهاری بزرگتر از اندازۀ تعيين شده برعلاوه اصلاح اندازۀ وسايل

پر اصلاح برسېره، د اضافي هر يو متـــر مربع په بدل کـــې (۵۰۰۰) پنځــه زره افغانۍ.

۲- په غير مجازو سيموکې د اشتهاري وسايلو د نصبولو په صورت کې د يادو اشتهاري وسايلو پر راټولولو برسېره، د يو متر مربع په بدل کې، (۱۰۰۰۰) لس زره افغانۍ.

۳- په اړوندو اشتهاري وسايلو کـــې د آدابو، اخلاقو، اسلامي احکامو او عامــه نظم مخالفو اعلانونو او تبليغاتو د نصبولو په صورت کې، د نومړو اشتهاري وسايلو پر راټولولو برسېره، د عدلي تعقيب پــه غرض اړوندو ادارو ته معرفي کول.

۴- له ټاکل شوي وخت څخه زيــات د اشتهاري وسايلو د نصبولو په صـــورت کې، د هرې اضافي ورځې په بدل کـــې، (۱۰۰۰) زر افغانۍ.

۵- په غير مجازو سيمو کې د اعلانونو او تبليغاتو د نصـــبولو، ځوړنـــدولو او پرېښوولو په صورت کې، د هرې پاڼې په بدل کې (۵۰۰) پنځه سوه افغانۍ.

٦- د ښاروالۍ له تثبيت شوو ځـــايونو

اشتهاری مذکور، در بدل هر فی متـــر مربع اضافی، مبلغ (۵۰۰۰) پنج هزار افغانی.

۲- درصورت نصب وسايل اشـــتهاری درمحلات غيرمجاز، علاوه برجمع آوری وسايل اشتهاری مذکوردر بدل فی متر مربـــع، مبلـــغ (۱۰۰۰۰) ده هـــزار افغانی.

۳- در صورت نصب اعلانات وتبليغات مخالف آداب، اخلاق، احکام اسلامی و نظم عامه در وسايل اشتهاری مربـــوط، علاوه بر جمع آوری وسايل اشـــتهاری مذکور، معرفی به ادارات ذيربط غرض تعقيب عدلی.

۴- درصورت نصب وسايل اشـــتهاری بيشتر ازميعاد معينه در بـــدل هـــر روز اضافی، مبلـــغ (۱۰۰۰) يـــک هـــزار افغانی.

۵- درصـــــورت نصـــب، تعليـــق و چســـپانيدن اعلانـــات و تبليغـــات در محـــلات غيـــر مجـــاز، در بـــدل هر ورق مبلغ (۵۰۰) پنجصد افغانی.

٦- در صورت حک وتحرير اعلانات و

پرته، د اعلانونو او تبليغاتو د حک کولو او ليکلو په صورت کې، زيانمن ته د وراړول شوي زيان پر جبرانولو برسيره، دهر اعلان يا تبليغ په بدل کې،(۵۰۰)پنځه سوه افغانۍ.

**ديارلسمه ماده:**

تبليغاتي او اشتهاري اعلانونه بايد د هېواد په رسمي ژبو وي.

**څوارلسمه ماده:**

دغه ضميمه په رسمي جريده کې د خپرېدو له نېټې څخه نافذېږي.

تبليغات در غير ازمحلات تثبيت شدهٔ شاروالى، علاوه برجبران خسارهٔ وارده به متضرر، در بدل هر اعلان يا تبليغ، مبلغ (۵۰۰)پنجصد افغانى.

**مادهٔ سيزدهم:**

اعلانات اشتهارى و تبليغاتى بايد به لسان هاى رسمى کشور باشد.

**مادهٔ چهاردهم:**

اين ضميمه از تاريخ نشر در جريدهٔ رسمى نافذ مى گردد.

**دخصوصي روغتيايي مرکزونو د مقررې**
**دځينو مادو د تعديل**
**اوايزاد د انفاذ په هکله، د افغانستان د**
**اسلامي جمهوريت د وزيرانو شورې**
**مصوبه**

**گڼه: (۴۸)**
**نېټه: ۲٦/ ۱۲/ ۱۳۹۲**

**لومړۍ ماده :**

د ۱۳۹۱/۵/۲۱ نېټې په (۱۰۸۴) گڼه رسمي جريده کې خپره شوې د خصوصي روغتيايي مرکزونو د مقررې د دريمې مادې د(۵)جزء،دشپږمې،څوارلسمې، څلېريشتمې او څلوېښتمې مادې تعديل او په اتمه ماده کې د (۲) فقرې ايزاد چې په (۳) مادو کې د افغانستان د اسلامي جمهوريت د وزيرانو د شورې لخوا تصويب شوې دی، منظوروم.

**دوه يمه ماده:**

دغه مصوبه د تصويب له نېټې څخه نافذه اوله تعديل او ايزاد سره يوځای دې، په رسمي جريده کې خپره شي.

**حامد کرزی**
**د افغانستان د اسلامي جمهوريت رئيس**

**مصوبۀ**
**شورای وزيران جمهوری اسلامی**
**افغانستان درمورد انفاذ تعديل و ايزاد**
**برخی مواد مقررۀ مراکز**
**صحی خصوصی**

**شماره :(۴۸)**
**تاريخ : ۱۳۹۲/۱۲/۲٦**

**مادۀ اول:**

تعديل جزء(۵) مادۀ سوم، مواد ششم، چهاردهم، بيست وچهارم وچهلم و ايزاد فقرۀ (۲) در مادۀ هشتم مقررۀ مراکز صحی خصوصی منتشرۀ جريدۀ رسمی شماره(۱۰۸۴) مؤرخ ۱۳۹۱/۵/۲۱ را که بداخل (۳) ماده از طرف شورای وزيران جمهوری اسلامی افغانستان به تصويب رسيده است، منظور می دارم.

**مادۀ دوم:**

اين مصوبه از تاريخ تصويب نافذ و همراه با تعديل و ايزاد در جريدۀ رسمی نشرگردد .

**حامد کرزی**
**رئيس جمهوری اسلامی افغانستان**

## د ۱۳۹۱/۵/۲۱ نېټې په (۱۰۸۴) ګڼه رسمي جريده کې د خپرې شوې خصوصي روغتيايي مرکزونو د مقررې د ځينو موادو تعديل او ايزاد

**لومړۍ ماده:**

د خصوصي روغتيايي مرکزونو د مقررې د درېيمې مادې (۵) جــزء، شــپږمې، څوارلسمې، څلېريشتمې او څلوېښــتمې مادې دې په لاندې ډول تعديل شي:

**اصطلاحګانې**

**درېيمه ماده:**

**۵- د راديولوژۍ مرکز:**

هغه روغتيايي مرکز دی چې په هغه کې د اکسرى (X- Ray)، سي – تي ســکن (C- T–scan)، ام – آر- آى (MRI)، (Cath- Catheterization– Labartory Lab) التراسوند، انژوګرافي، اندوسکوپي، اى – سي ــ جي، ايکوکارديوګرافي او دوپلر، اى– تي ــ تي، د غوړونو داوربېدو د ټاکلو د مرکز، د سترګو د نمــرې د

## تعديل و ايزاد برخى مواد مقررۀ مراكز صحى خصوصى منتشرۀ جريدۀ رسمى شماره (۱۰۸۴) مؤرخ ۱۳۹۱/۵/۲۱

**مادۀ اول:**

جزء (۵) مادۀ ســوم، مــواد ششــم، چهاردهم، بيست و چهــارم و چهلــم مقررۀ مراكز صحى خصوصى ذيلاً تعديل گردد:

**اصطلاحات**

**مادۀ سوم:**

**۵- مركز راديولوژى:**

مركز صحى است كه درآن اكســرى (X-Ray) ســى – تــى سكــن (C- Tscan)، ام – آر- آى (MRI)، (Cath- Catheterization Labartory Lab) التراســوند، انژوگرافــى، اندوســكوپى، اى–ســى–جــى، ايكوكارديوگرافى و دوپلر، اى- تى – تى و انواع عكــس بــردارى طبــى و

ټاکلو د مرکز، د طبي عکس اخيستنې د ډولونو او د اکسرې د تکنالوژۍ په شمول د ناروغيو د تشخيص او تداوی لپاره صورت نيسي.

د جوړولو شرايط

شپږمه ماده:

(۱) کورني اوبهرني حقيقي او حکمي اشخاص کولای شي، عمومي يا اختصاصي روغتون تر لاندې شرايطو لاندې جوړکړي:

۱- دعامې روغتيا وزارت ته د غوښتنليک وړاندې کول.

۲- د پانګې اچونې دجوازدرلودل.

۳- دارتياوړ بانکي مالي وجوهو د سندونو وړاندې کول.

۴- د فعاليت د ډول (عمومي يا اختصاصي )يادول.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوي حقيقي اوحکمي اشخاص مکلف دي، يوميليون (۱۰۰۰۰۰۰) افغانۍ يا د هغې معادل د ملکيت سند د تضمين په توګه د هېواد له دولتي بانکونو څخه په

تکنالوژی اکسری به شمول مرکزتعیین شنوائی گوش، مرکز تعیین نمرۀ چشم، جهت تشخیص و تداوی امراض صورت می گیرد.

شرایط ایجاد

مادۀ ششم:

(۱) اشخاص حقیقی و حکمی داخلی و خارجی می توانند، شفاخانۀ عمومی یا اختصاصی را تحت شرایط ذیل ایجاد نمایند:

۱- ارایۀ درخواست به وزارت صحت عامه .

۲- داشتن جواز سرمایه گذاری.

۳- ارایۀ اسناد وجوه مالی بانکی مورد نیاز.

۴- ذکر نوع فعالیت (عمومی یا اختصاصی ) .

(۲) اشخاص حقیقی و حکمی مندرج فقرۀ (۱) این ماده مکلف اند، مبلغ یک میلیون (۱۰۰۰۰۰۰) افغانی یا معادل آن سند ملکیت را طور تضمین دریکی از بانک های دولتی کشور

يوه کې تحويل کړي.

(۳)د خصوصي روغتون د فعاليت د جواز حق الامتياز د لازمو آسانتياوو له په پام کې نيولو سره په لاندې توګه ټاکل کيږي:

۱- له پنځوسو (۵۰) بسترو څخه زيات عمومي روغتونونه، شپږسوه زره (٦۰۰۰۰۰) افغانۍ.

۲- له دېرشو (۳۰) بسترو څخه زيات عمومي روغتونونه، پنځه سوه زره (۵۰۰۰۰۰) افغانۍ.

۳- له شلو (۲۰) بسترو څخه زيات عمومي روغتونونه، څلورسوه زره (۴۰۰۰۰۰) افغانۍ.

۴- اختصاصي روغتونونه، درې سوه زره (۳۰۰۰۰۰) افغانۍ.

(۴) کورني اوبهرني حقيقي اوحکمي اشخاص کولای شي، کلينيک، د راديولوژۍ مرکز او دفزيکي تداوی مرکز ددې مادې په (۱) فقره کې پر درج شوو شرايطو سربېره تر لاندې شرايطو لاندې جوړ کړي:

۱- د هېواد له دولتي بانکونو څخه په يوه

تحويل نمايند.

(۳) حق الامتياز جواز فعاليت شفاخانهٔ خصوصی بانظرداشت تسهيلات لازم حسب ذيل تعيين می گردد:

۱- شفاخانه های عمومی بيشتر از پنجاه (۵۰) بستر، مبلغ شش صد هزار (٦۰۰۰۰۰) افغانی.

۲- شفاخانه های عمومی بيشتر از سی (۳۰) بستر، مبلغ پنجصد هزار (۵۰۰۰۰۰) افغانی .

۳- شفاخانه های عمومی بيشتر از بيست (۲۰) بستر، مبلغ چهارصد هزار (۴۰۰۰۰۰) افغانی.

۴- شفاخانه های اختصاصی، مبلغ سه صد هزار (۳۰۰۰۰۰) افغانی.

(۴) اشخاص حقيقی و حکمی داخلی و خارجی می توانند، کلينيک، مرکز راديولوژی و مرکز تداوی فزيکی را علاوه برشرايط مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده تحت شرايط ذيل ايجاد نمايند:

۱- تحويل مبلغ پنجصد هزار

کې د تضمين په توګه د پنځه سوه زره (۵۰۰۰۰۰) افغانيو يا د هغې معادل د ملکيت سند تحويلول.

۲- د دوه سوه زره (۲۰۰۰۰۰) افغانيوحق الامتياز ورکول.

(۵)حقيقي او حکمي اشخاص کولای شي د راديولوژۍ د مرکز له فعاليتونو څخه يو د دې مادې د (۱) فقرې د (۱،۳ او۴) اجزاؤ له په پام کې نيولوسره تر لاندې شرايطو لاندې جوړکړي:

۱- د شل زره (۲۰۰۰۰) افغانيو حق الامتياز د ورکړې او دهېواد له دولتي بانکونو څخه په يوه کې د (۵۰۰۰۰) پنځوس زره افغانۍ بانکي تضمين په وړاندې کولو سره سي – تي سکن (C−T scan)، ام–آر–آی (MRI) او انژوګرافي.

۲- د پنځه زره (۵۰۰۰) افغانيو حق الامتياز د ورکړې په بدل کې التراسوند، اندوسکوپي، ايکوکارديوګرافي او دوپلر، د غوږ د اوريدلو د ټاکنې مرکز، د سترګو د نمرې دټاکلو مرکز او آی – تي – تي.

(۵۰۰۰۰۰) افغانی يا معادل آن سند ملکيت طور تضمين دريکی ازبانک های دولتی کشور.

۲- پرداخت حق الامتياز مبلغ دوصد هزار (۲۰۰۰۰۰) افغانی .

(۵) اشخاص حقيقی و حکمی ميتوانند يکی از فعاليت های مرکز راديولوژی را با نظرداشت شرايط اجزای ( ۱ ، ۳ و ۴) فقرهٔ (۱) اين ماده تحت شرايط ذيل ايجاد نمايند:

۱- سی- تی سکن (C−T scan)، ام – آر – آی (MRI) و انژوگرافی در برابر پرداخت حق الامتياز، مبلغ بيست هزار(۲۰۰۰۰) افغانی و ارايهٔ تضمين بانکی مبلغ پنجاه هزار (۵۰۰۰۰)افغانی در يکی از بانک های دولتی کشور.

۲- التراسوند، اندوسکوپی، ايکوکارديوگرافی و دوپلر، مرکزتعيين شنوائی گوش، مرکز تعيين نمرهٔ چشم و ای – تی – تی در برابر پرداخت حق الامتياز، مبلغ پنج هزار (۵۰۰۰) افغانی .

۳- د زرو(۱۰۰۰) افغانیوحق الامتیاز د ورکړې په بدل کې ای - سي- جي (E−C−G).

(٦) مالک کولای شي، د شمېرو یا د ځای د نوم په زیاتولو سره په ولایتونو او نورو ځایونو کې تر عین نامه لاندې بل خصوصي روغتیایي مرکز جوړ کړي، پدې شرط چې د دې مادې په (۲، ۳، ۴ او ۵) فقرو کې د درج شوو حکمونو له په پام کې نیولو سره د فعالیت جلا جواز لاسته راوړي.

## د مالک مکلفیت

### څوارلسمه ماده:

مالک، رئیس او د خصوصي روغتیایي مرکز مسئول مکلف دي، دفعالیت د جواز، د رئیس د هویت، د روغتیایي مرکز د مسئول او دتشخیصیه معایناتو او تداوی د حق الاجرت پاڼه چې د عامې روغتیا وزارت د حق الاجرت (فیس) د کمېسیون لخوا تأیید او مهر شوې وي، په مناسب او دلید وړ ځای کې نصب کړي.

۳- ای - سی - جی (E− C− G) در برابر پرداخت حق الامتیاز، مبلغ یک هزار (۱۰۰۰) افغانی .

(٦) مالک می تواند، مرکزصحی خصوصی دیگر را تحت عین نام با ایزاد اعداد یا اسم محل در ولایات وسایر محلات ایجاد نماید ، مشروط بر اینکه جواز فعالیت جداگانه را با رعایت احکام مندرج فقره های (۲، ۳، ۴ و ۵ ) این ماده کسب نماید .

## مکلفیت مالک

### مادۀ چهاردهم:

مالک، رئیس و مسئول مرکز صحی خصوصی مکلف اند، ورقۀ جواز فعالیت، هویت رئیس، مسئول مرکز صحی و حق الاجرت معاینات تشخیصیه وتداوی را که از طرف کمیسیون حق الاجرت (فیس) وزارت صحت عامه تائید ومهر گردیده باشد، در محل مناسب و قابل دید نصب نماید.

**د حق الاجرت ( فيس ) د ارزونـــې کمېسيون**

**څلېريشتمه ماده:**

(۱) د خصوصي روغتيايي مرکزونو لخوا د ټاکل شوي حق الاجرت د ارزونې پــه منظور کمېسيون پــه لانــدې ترکيــب جوړيږي:

۱- د عامې روغتيا وزارت اداري معين د رئيس په توګه.

۲- د دولتي روغتونونو له متخصصـــينو څخه يو تن د غړي په توګه.

۳- د خصوصي روغتيايي مرکزونـــو د اتحادېې يو تن مسلکي او تجربه لرونکی کار کوونکی د غړي په توګه.

۴- له مدني ټولنې (د روغتيايي خدمتونو د وړاندې کولو خصوصي سکتور) څخه يو تن د غړي په توګه.

۵- د بحث وړ حق الاجرت د وړاندې کوونکي د خصوصي روغتيايي مرکزونو يو تن استازی دغړي په توګه.

(۲) د حق الاجرت اندازه د خصوصـــي روغتيايي مرکزونو په واسطه ټاکل کېږي

**کميسيون ارزيابی حـــق الاجـــرت (فيس)**

**مادهٔ بيست و چهارم:**

(۱) به منظور ارزيابی حق الاجرت معينه از طرف مراکـــز صـــحی خصوصـــی، کميسيونی به ترکيـــب ذيـــل ايجـــاد می گردد:

۱- معين اداری وزارت صحت عامه به حيث رئيس .

۲- يک نفر از متخصصين شفاخانه های دولتی به حيث عضو .

۳- يک نفر کارکن مسلکی وباتجربـــهٔ اتحاديهٔ مراکز صحی خصوصی به حيث عضو.

۴- يک نفر از جامعهٔ مدنی (ســـکتور خصوصی عرضهٔ خدمات صـــحی) بـــه حيث عضو.

۵- يک نفر نمايندهٔ مراکـــز صـــحی خصوصی ارايه کنندهٔ حق الاجرت مورد بحث به حيث عضو.

(۲) انـــدازهٔ حـــق الاجـــرت توســـط مراکـــز صـــحی خصوصـــی تعيـــين و

او د ارزونې لپاره کمېسيون ته وړاندې کېږي.

(۳) کمېسيون د روغتيايي مرکز د موجودو معيارونو او د اړوندو خدمتونو د وړاندې کولو له په پام کې نيولو سره ياد شوی فيس تأييد يا ردوي.

(۴) کمېسيون د سپارل شويو دندو د تنظيمولو په منظور هغه کړنلاره چې د عامې روغتيا وزارت لخوا تأييد شوې وي وضع کوي.

**حق الاجرت (فيس)**

**څلوېښتمه ماده:**

(۱) خصوصي روغتيايي مرکز د لاندې خدمتونو د وړاندې کولو په مقابل کې هغه حق الاجرت اخلي چې د کمېسيون د تأييد وړ ګرځېدلی وي:

۱- کلينيکي خدمتونه.

۲- حمايتي خدمتونه (پاراکلينيکي اوتشخيصي) .

۳- تقويتي خدمتونه.

(۲) د خصوصي روغتيايي مرکز رئيس يا مسئول مکلف دی، د ناروغ د ډاډ لپاره د

جهت ارزيابی به کميسيون ارايه می گردد.

(۳) کميسيون با درنظر داشت معيارهای موجود مرکزصحی و عرضهٔ خدمات مربوط فيس مذکور را تائيد يا رد می نمايد.

(۴) کميسيون به منظور تنظيم وظايف محوله طرزالعمل را که از طرف وزارت صحت عامه تائيد شده باشد وضع می نمايد.

**حق الاجرت (فيس)**

**مادهٔ چهلم:**

(۱) مرکز صحی خصوصی دربرابر عرضهٔ خدمات ذيل حق الاجرتی را اخذ می نمايد که مورد تائيدکميسيون قرارگرفته باشد:

۱- خدمات کلينيکی .

۲- خدمات حمايتی (پاراکلينيکی وتشخيصی ).

۳- خدمات تقويتی.

(۲) رئيس يا مسئول مرکز صحی خصوصی مکلف است،

خدمتونو د وړاندې کولو په مقابل کې د حق الاجرت د سند رسيد ناروغ ته وسپاري.

**دوه یمه ماده:**

د اتمې مادې متن دې د (۱) فقرې په توګه او لاندې متن دې د(۲) فقرې په توګه ايزاد شي:

(۲) عمومي روغتونونه کولای شي، د مالي امکاناتو د درلودلو په صورت کې د دې مادې د(۱) فقرې په (۱ او۲) اجزاوو کې درج شوې د سي – تي سکن (C−T scan) ، ام – آر – آی (MRI)، پلیمونري فنکشن تسټ Pulmonary Function Test، انژوګرافي او ډیالایسس (Dialysis) برخې فعالې کړي.

**دريیمه ماده:**

دغه تعديل او ايزاد د وزيرانو د شورې د تصويب له نېټې څخه نافذ او په رسمي جريده کې دې خپور شي.

جهت اطمینان مریض سند رسید حق الاجرت را دربرابر عرضهٔ خدمات به مریض تسلیم دهد.

**مادهٔ دوم:**

متن مادهٔ هشتم به حیث فقرهٔ (۱) و متن ذیل به حیث فقرهٔ (۲) ایزاد گردد:

(۲) شفاخانه های عمومی می توانند، در صورت داشتن امکانات مالی بخش های سی– تی سکن (C−T scan)، ام –آر–آی (MRI)،پلیمونری فنکشن تست Pulmonary Function Test، انژوگرافی و دیالایس (Dialysis) مندرج اجزای (۱ و ۲) فقرهٔ (۱) این ماده را فعال سازند.

**مادهٔ سوم:**

این تعدیل و ایزاد از تاریخ تصویب شورای وزیران نافذ ودرجریدهٔ رسمی نشرگردد.

د هوايي ډگرونو او ملکي هوايي چلند د تأسيساتو د حق الاجرت د مقررې د يوولسمې مادې د (۱) فقرې د تعديل د انفاذ په هکله، د افغانستان د اسلامي جمهوريت د وزيرانو شوري مصوبه

گڼه: (۴۸)

نېټه: ۲٦/ ۱۲/ ۱۳۹۲

لومړۍ ماده:

د ۱۳۸۴ کال په (۸٦۰) گڼه رسمي جريده کې خپره شوې د هوايي ډگرونو او ملکي هوايي چلند د تأسيساتو د حق الاجرت د مقررې د يوولسمې مادې د (۱) فقرې تعديل چې د افغانستان د اسلامي جمهوريت د وزيرانو شوري لخوا تصويب شوی دی، منظوروم.

دوه يمه ماده:

دغه مصوبه د تصويب له نېټې څخه نافذه او له نوموړي تعديل سره يوځای دې، په رسمي جريده کې خپره شي.

حامد کرزی

دافغانستان داسلامي جمهوريت رئيس

مصوبهٔ شورای وزیران جمهوری اسلامی افغانستان درمورد انفاذ تعدیل فقرهٔ (۱) مادهٔ یا زدهم مقررهٔ حق الاجرت میدان های هوایی و تأسیسات هوانوردی ملکی

شماره: (۴۸)

تاریخ: ۱۳۹۲/۱۲/۲٦

مادهٔ اول:

تعدیل فقرهٔ (۱) مادهٔ یازدهم مقررهٔ حق الاجرت میدان های هوایی و تأسیسات هوانوردی ملکی منتشرهٔ جریدهٔ رسمی شماره (۸٦۰) سال ۱۳۸۴ که از طرف شورای وزیران جمهوری اسلامی افغانستان به تصویب رسیده است، منظور می دارم.

مادهٔ دوم:

این مصوبه از تاریخ تصویب نافذ و همراه با تعدیل مذکور در جریدهٔ رسمی نشر گردد.

حامد کرزی

رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

## د هوايي ډګرونو او ملکي هوايي چلند د تأسيساتو د حق الاجرت د مقررې د يوولسمې مادې د (۱) فقرې تعديل

**لومړۍ ماده:**

د ۱۳۸۴ کال په (۸٦۰) ګڼه رسمي جريده کې خپره شوې د هوايي ډګرونو او ملکي هوايي چلند د تأسيساتو د حق الاجرت د مقررې د يوولسمې مادې (۱) فقره دې، په لاندې متن تعديل شي:

**د هوايي ډګر د خدمتونو اجرت**

**يوولسمه ماده:**

(۱)هغه شخص چې له هوايي ډګر څخه د الوتکې په واسطه له هېواده بهر ته سفر کوي، مکلف دی دهوايي ډګرله خدمتونو اواسانتياووڅخه دګټې اخيستنې په وړاندې، د (۱۵۰۰) يو زر اوپنځه سوه افغانۍ او يا يې معادل په امريکايي ډالرو باندې دمسافرت دخدمت اجرت ورکړي.

## تعديل فقرۀ (۱) مادۀ يازدهم مقررۀ حق الاجرت ميدان های هوائی و تأسيسات هوانوردی ملکی

**مادۀ اول:**

فقرۀ (۱) مادۀ يازدهم مقررۀ حق الاجرت ميدان ها ی هوائی و تأسيسات هوانوردی ملکی منتشرۀ جريدۀ رسمی شماره (۸٦۰) سال ۱۳۸۴ به متن ذيل تعديل گردد:

**اجرت خدمات ميدان هوائی**

**مادۀ يازدهم:**

(۱) شخصی که از ميدان هوائی توسط طياره به خارج کشور مسافرت می نمايد، مکلف است در برابر استفاده از خدمات و تسهيلات ميدان هوائی، مبلغ (۱۵۰۰) يکهزار و پنجصد افغانی و يا معادل آن به دالر امريکايی اجرت خدمت مسافرت را تأديه نمايد.

**دوه یمه ماده:**

**دغه تعدیل د تصویب لـــه نېټــې څخـــه نافذېږي.**

**مادهٔ دوم:**

**این تعدیل از تـــاریخ تصــویب نافـــذ می گردد.**

# اشتراک سالانه:

**در مرکز و ولایات : (۹۰۰) افغانی**

**برای مامورین دولت: با ۲۵ فیصد تخفیف**

**برای متعلمین و محصلین با ارائه تصدیق، نصف قیمت**

**برای کتاب فروشی ها با ۱۰ فیصد تخفیف از قیمت روی جلد**

**خارج از کشور: (۲۰۰) دالر امریکائی**

ISLAMIC REPUBLIC
OF
AFGHANISTAN
MINISTRY OF JUSTICE

# OFFICIAL GAZETTE

- Presidential Decree of Islamic Republic of Afghansitan
- Attachment No.٤ of Municipal Tax Law
- Amendment to Paragraph ١ of Article ١٢ of Regulation on Airpots and Civil Aviation Infrastructures Fee

Date: ٤th *JUNE.* ٢٠١٤
ISSUE NO :(١١٣٦)